# د ژبې د پیداوښت په حقله د مختلفو نظریاتو څېړنه

**An analyis of theories regarding geneses of language**

ډاکټر بشریٰ خاتون*

**Abstract**

Since Linguistics is the study of Language, it is imperative for a linguist to know what language is?. Language is a unique possession of man. It is God, special gift to mankind. Language is a very complex human phenomenon. There are many theories about the origin of language. This paper is an attempt to present a sketch of these theories.

د ژبې د پېداوښت په حقله ژبپوهان یو خولهٔ نهٔ دي. د ژبې د پېداوښت په حقله مختلفې نظریې وخت په وخت پېش کړی شوي دي. چې لاندې ئې ذکر کولی شي.

1. بـو.. وؤ نظریـه "The Bow-wow Theory" ددې نظریـې پـه حقله ښاغلی خالد خان ختټک لیکي :

,, اس نظرے کے مطابق انسان نے جانوروں کی بولیوں کی نقل کرتے کرتے بولنا سیکھا ہے۔اور پھر زبان کو موجودہ معیار تک پہنچایا ہے۔(1)

ترجمه : ددې نظریې مطابق انسان د ځناورو د آوازونو د پېښو نه وئیل زده کړل او بیا ئې ژبه تر اوسني معیاره پورې را ورسوله.

2. پُـو.. پُـو نظریـه "Pooh Pooh Theory" : ,,یہ نظریہ اس بات کی وضاحت کرتا ہے کہ انسان خوشی یا خوف کے موقع پر جو مختلف قسم کی آوازیں منہ سے نکالتا ہے۔انہی آوازوں نے بعد میں منظم صورت اختیار کی اور زبان وجود میں آئی"(2)

ترجمه : دا نظریه ددې خبرې وضاحت کوي چې انسان د خوشحالۍ یا د وئېرې په موقع چې کوم مختلف آوازونـه د خولې نه وباسي. دغې اوازونو وروستو یو منظم شکل اختیار کړو او ژبه ترې جوړه شوه.

3. ډنګ. ډانګ نظریه :

* Junior Research Specialist, Pashto Academy, University of Peshawar

"The ding – dong theory sustains that there is a mystic correlation between sound and meaning. Like every thing mystical it is best discarded in a serious scientific discussion(3)

ترجمه : ډنګ ډانګ نظریه دا یقین لري چې د غږ او معنې تر مینځه یو پُر اسراره تعلق دی. د هر پُر اسراره څیز په شان سنجیده سائنسي بحث دا نظریه هم رد کړې ده.

4. یو. هي. هو نظریه "Yo – He – Ho Theory" : ددې نظریې په حقله ښاغلی صفدر خلیل لیکي :

,, انگریزی میں ایک نظریہ یو ہو نام سے مشہور ہے۔ علماء کا قیاس ہے کہ محنت و مشقت کے دوران میں انسان کی جسمانی طاقت صرف ہوتی ہے۔ اس کا دم پھول جاتا ہے۔ پھیپھڑے پھیل جاتے ہیں۔ رگیں، شریانیں اور انتڑیاں بھی پھول جاتی ہیں۔ ان میں کپکپی اور سر سراہٹ پیدا ہوتی ہے۔ اس وقت ساز کی تاروں کی مانند انسانی گلے سے آوازیں اخراج کرنا شروع کر دیتی ہیں۔ یہی آوازیں زبان کا روپ بھر لیتی ہیں۔ انسان ہر کام کا نام اسی آواز پر رکھتا ہے"(4)

ترجمه : په انګرېزۍ کښې یوه نظریه د یو هو په نوم مشهوره ده. د علماؤ قیاس دی چې د محنت مشقت په وخت د انسان بدني طاقت خرچ کېږي د هغهٔ ساه بد بد شي، پړپوس ئې اوپړسېږي رګونه او کولمې ئې هم اوپړسېږي او په رپېدو شروع شي. دا وخت د ساز د تارونو په شان د انساني مرۍ نه هم آوازونه اوځي. ددغه آوازونو نه ژبه جوړه شي او انسان د هر کار نوم په دغه آواز بږدي.

5. د اشارو نظریه "Gesture theory" : ددې نظریې لب لباب د C.L Barber د کتاب په حواله لیکم :

"A fifth theory of the origins of languages takes the view that gesture language preceded speech. Supporters of this theory point to the extensive use of gestures by animals of many different kinds, and the highly developed systems of gesture used by some primitive people"(5)

ترجمه : د ژبې د پیدائښت په حقله پینځمه نظریه دا وائي چې د وینا د ژبې نه وړاندې په اشارو ژبه استعمالېده. ددې نظریې حامیان وائي چې د مختلف قسمه ځناورونه انسان ډېرې زیاتې اشارې زده کړې وې. اوزوړ انسان به د اشارو نه کار اخستو.

6. **د موسيقۍ نظريه "Musical Theory"** : ددې نظريې باني د ډنمارک مشهور ژبپوهان "Otto. Jesperson" دی. د هغهٔ دا خيال ؤ چې وړاندې بيان کړي شوي ټول نظريات د ژبې د يوې حصې دپاره خو صحيح دي. خو د ټولې ژبې دپاره قابل قبول نهٔ دي. دی وائي چې اوازونه يا غږونه اول اول کښې ډېر اوږدهٔ وو. خو په دمه دمه دا مختصر شول او په آخره کښې ترې نه موجوده شکل جوړ شو.

7. **د ميل جول نظريه "The Contact Theory"** : ددې نظريې په حقله خالد خان خټک ليکي :

"یہ جدید قابل قبول نظریہ ہے جس کو ایمسٹرڈم کے پروفیسر جے۔ ریوس J.Raves نے پیش کیا ہے۔ وہ کہتا ہے کہ ایک آدمی دوسرے آدمی کے ساتھ وابستہ ہے۔ اور یہی وابستگی وہ بنیاد ہے جس کے نتیجے میں زبان وجود میں آئی۔ اور مختلف مراحل سے گزر کر موجودہ صورت میں ظاہر ہوئی۔ انسان اپنی مختلف ضروریات کے لئے دوسرے انسانوں کا محتاج ہے۔ اسی لئے اس نے آوازیں نکالنی شروع کیں اور ان آوازوں سے الفاظ وجود میں آئے اور زبان کا ایک نظام تشکیل ہوا"(6).

ترجمه : دا نوې قابل قبوله نظريه ده چې د ايمسټرډم پروفېسر جې ريوس (J.Raves) پېش کړې ده. هغه وائي چې يو سړی د بل سره تړلی دی او دا تړون هغه بنياد دی د څهٔ په نتيجه کښې چې ژبه جوړه شوه. او د مختلفو مرحلو نه چې تېره شوه نو په موجوده شکل کښې ظاهره شوه. انسان د مختلفو ضرورتونو دپاره اوازونه ايستل شروع کړل. ددغې آوازونو نه لفظونه جوړ شول او د ژبې يو نظام جوړ شو.

د ژبې په حواله انسان همېشه راسې متجسس "Curious" پاتې شوی دی. او د انسان دا "Curiosity" د مختلفو مرحلو نه راتېره شوې ده. په اول اول کښې چې کومې نظريې مخې ته راغلې وې هغه په دوؤ ډلو کښې تقسيمېدی شي.

1. اختراعي
2. حادثاتي يا اتفاقي

د وړومبنۍ ډلې مطلب دا ؤ چې ژبه د انساني ذهن پېداوار دی او د دوېمې ډلې مطلب دا ؤ چې ژبه په حادثاتي يا اتفاقي توګه پېدا شوې ده. د نفسياتو ماهر ونټ "Wundt" وړومبنی سړی ؤ چې په اختراعي او پېښنو "Imitation" په نظريو کښې ئې فرق وکړو.

راډلف ایسلر "Rudolf Eisler" د ژبو د پېدائشت نظریې په دریو ډلو کښې وویشلې.

1. دینیاتي
2. اختراعي
3. نفسیاتي "Psycho - genetic"

په وړومبنۍ ډله کښې مذهبي نقطه نظر بنیادي حېثیت لري. یعنې ژبه الله تعالیٰ پېدا کړې ده. په دوېمه ډله کښې ژبه د څنې فطین او ذهینو خلقو د ذهن پېداوار دی. او په درېمه ډله کښې هغه ټولې نظریې شاملې دي د کومو تعلق چې پېښو، اشارو، حرکتونو او مختلفو اوازونو ایستو سره دی.

جرمن مفکر هرډر په وړومبي ځل د ژبې د پېدائښت په حقله دینیاتي نظریه رد کړه.

"جرمن مفکر ہرڈر نے پہلی بار آغازِ زبان کے دینیاتی نقطہ نظر کی تردید کی اور اپنے ایک مضمون ۱۷۷۲ء "زبان کا آغاز" میں یہ رائے ظاہر کی کہ اگر زبان تخلیق ربانی ہوتی تو زیادہ منطقی اور منظم، زیادہ جامع اور بلیغ ہوتی ۔ انسانی زبانوں میں جو بے قاعدگی، بے ڈھنگاپن اور تشنگی ہے وہ اس بات کا ثبوت ہے کہ زبان انسان کی وضع کی ہوئی ہے"(7)

ترجمه : جرمن مفکر هرډر په وړومبي ځل د ژبې د پېدائښت په حقله دینیاتي نظریه رد کړه او په خپل یو مضمون ,,زبان کا آغاز،، ۱۷۷۲ء کښې دا رائې ښکنده کړه چې که چرې ژبه الله تعالی پېدا کړې وی نو دا به ډېره منطقي، منظمه، مکمله او بلیغه وه. په انساني ژبو کښې چې کومې بې قاعدګۍ او کمۍ دي دا ددې خبرې ثبوت دی چې ژبه انسان جوړه کړې ده.

جي ریویز "G. Ravez" د ژبو د پېدائښت په حقله نظریې په دریو ډلو کښې تقسیموي.

1. حیاتیاتي "Biological"
2. بشریاتي "Anthropological"
3. فلسفیانه او دینیاتي "Philosophical & theological"

د جي. ریوز مطابق چې کومه نظریه د انساني خبرو اترو د ځناور د غږونو ردعمل او بیوهار د صوتي طریقو نه اخذ کوي او په حېواني نړۍ کښې د تاریخ نه مخکښې دور په ګوته کوي دې ته حیاتیاتي "Biological" وئیلی شي. ولې ددې

اپوته د بشرياتي نظريو تر مخه د ژبې ښخي ورومبنی شکل هم د انساني ذهن کرشمه وه. د ارتقاء په ورومبنو پړاؤنو کښې مادي او سماجي (ټولنيز) حالاتو د ابلاغ (رسولو) مخصوص شکل پيدا کولو د پاره انسان د ذهني صلاحيتونو استعمال ته را اوپارؤ. په نولسمه پېړۍ کښې د ژبې د پيدائښت په حقله چې کومې نظريې پېش کړې شوې. هغې کښې تقريباً انفراديت پسندانه "Individualistic" وې. د کومو تر مخه چې ژبه د انسان خپله ذهني اختراع ده. او ددۀ د شعور او ارادې پکښې لوئی لاس دی.

دغه شان فريډرک فان شليګل په خپل کتاب "Philosophy of Language" کښې دا رائې څرګنده کړې ده چې ژبه د ارتقاء نتيجه نۀ ده بلکې بيخي د شروع نه د خپلو ضروري خصوصياتو سره د انسان د شعور او داخلي ژوند نه رابرڅېره شوې ده.

د جي، رېوز "G. Ravez" د ارتباط يا ميل جول نظريه "Contact theory" د ژبې د پيدائښت په حقله يوه نوې نظريه ده. چې د پېښو او ځناورو د نقلونو کولو والا نظريې "Bow- vow theory" او "Gesture theory" نه جدا نقطۀ نظر لري. د جي رېوز په نزد ارتباط د انسانانو د يو بل سره نزدېکت، اشنائي، تعاون او د ابلاغ په داخلي رجحاناتو دلالت کوي او دا خبره تر څۀ حده صحيح هم ښکاري. ځکه چې په ټولنو کښې د غړو د پاره د ژوند کولو آفاقي اصول هم دغه ارتباط دی.

د پوهانو يوه ډله دا وائي چې زوړ انسان د فطري آوازونو د نقل کولو نه ورومبنی کلمې جوړې کړې. ددې نظرياتو په سلسله کښې مونږ ته دوه نومورې نومونه په نظر راځي يو ميکس مُلر او بل ستېين هَل. ميکس مُلر د "ding - dong" نظريې په وجه پېژندی شي. او ستېين هَل "Reflex theory" پېش کړې وه دا دواړه نظريې د نقالۍ نظريې دي. د ډنګ ډانګ نظريې تر مخه په کوم څيز هم چې ګوزار کېږي. هغه غږېږي او دغه شان د بهر نه قبول شوی د خارجي آوازونو هر تاثر د انسان د باطن نه غږيځ اظهار مومي. دغه شان استېين هل د رجعي حرکتونو نظريه "Reflex theory" د "Articulated" آوازونو د آغاز نقطه هغه رجعي حرکت يا حسياتي تاثر دی چې فطري آوازونو د خارجي عمل په وجه پيدا شوی وي. د ډنګ ډانګ او د رجعي نظريې نه تقريباً نهه سوه کاله وړاندې ۹۳۳ء

کښې ابو هاشم معتزلي هم داخبره کړې وه او د هغۀ پېرو کارانو هم د ژبې د پېدائښت په حقله دا خبره کړې ده.

"ابوہاشم معتزلی نے یہ رائے ظاہر کی تھی۔ کہ انسان نے محسوس کیا کہ ایک ہی حیوان مختلف موقعوں پر مختلف آوازیں نکالتا ہے۔ مثلاً مرغی اپنے چوزوں کو شکاری پرندوں سے محفوظ رکھنے کے لئے جو آواز نکالتی ہے وہ اس واز سے مختلف ہوتی ہے جو دانہ چگانے کے لئے نکالتی ہے۔ اس طرح اُس نے ترہیبی اور ترغیبی آوازوں کا اختلاف سیکھا۔ دوسرے جانوروں کی آوازوں کی کیفیتوں اور تبدیلیوں کو سمجھا۔ مظاہر فطرت کی آوازوں مثلاً بادل کی گرج، ہوا کی سر سراہٹ، سوکھے پتوں کی کھڑ کھڑاہٹ وغیرہ کو سنا۔ ان سب آوازوں کی نقالی کی کوشش کی۔ اعضائے صوت زیادہ نرم اور لچکدار ہوتے گئے۔ اور اس کی آوازیں زیادہ صاف اور واضح ہوتی گئیں اور کلموں کی مؤجب ہوئی اور بتدریج زبان تشکیل پاتی گئی"(8).

ترجمه : ابو هاشم معتزله دا رائې څرګنده کړې وه چې انسان دا محسوسه کړله چې ځناور په مختلفو موقعو مختلف آوازونه اوباسي. لکه د مثال په توګه چرګه چې د ښکاري مرغۍ نه د خپلو چرګوټو د ساتلو دپاره کوم آواز اوباسي هغه د هغه آواز نه بدل وي کوم چې چرګوټو ته د دانو د راټولولو په وخت کوي. دا رنګې انسان د وئيرې او رابللو والاآوازونو په کيفيتونو او بدلون باندې پوهه شو. د فطرت آوازونه لکه د وريځو د ګړزاري د هوا شور او د وچو پاڼو کړ کړ ئې واورېدل. ددې ټولو آوازونو د نقل کولو کوشش ئې وکړو. د غږ اعضاء ئې زيات نرم او لچکدار شو او آواز ئې زيات صفا او واضحه شو. د حرفونو سبب جوړ شو. دغه شان په دمه دمه ژبه جوړه شوه.

فرانسيسي ژبپوهان ريناں ۱۸۵۹ء کښې خپل کتاب "Lorigine du langage" کښې دا خيال څرګند کړې ؤ چې د فطري آوازونو نقل د لساني عنصرونو د پېدائښت دپاره لاره هواره کړه. دغه شان اوټو يسپرسن "Otto Jesperson" په خپل کتاب (Language its nature Dev: & origin) جوهينسن "A.Johanneson" په خپل تصنيف "origin of Language" او دا مونټګني "De Montegny" په خپل تصنيف "How did Language originated" کښې د فطري آوازونو نقل د ژبې د پېدائښت يوه مهمه سرچينه ګرځولې ده.

د هرې ژبې څۀ نه څۀ تاريخ مرتب کېدی شي. او د هغې نه دا نتيجه اخذ کېدی شي چې د يوې نه يوې ژبې څانګه ده يا ددې بنياد څۀ زړه ژبه ده د يو شان ژبو يوه سرچشمه به هم وي. خو آيا دا سرچشمه په خپله جوړه شوه او کۀ نه دا هم د بلې ژبې نه راوتې ده. او کۀ چرې هغه بله ژبه ده نو دهغې څۀ هيئت دی ؟ که مونږ

د بشر پوهنې په رڼا کښې دا خبرې وسنجوؤ نو په دې نتيجه رسو چې د ژبې د پېدائښت نه وړاندې انسان ټولنيز ژوند شروع کړې ؤ. او د ژبې پېدائښت هم د دې ټولنيز ژوند د وجې ممکن شو.

ءءبشریاتی نقطہ نظر یہ ہے کہ انسانوں کے باہمی رابطے کی ضرورت زبان کے وجود میں آنے کی مؤجب ہوئی اور سماجی ضرورتوں اور تقاضوں نے انسان کو زبان سے کام لینا سکھایا۔ اس بات سے یہ نتیجہ اخذ کیا جاسکتا ہے کہ زبان کی تخلیق سے پہلے انسان کسی نہ کسی نوعیت کی سماجی زندگی شروع کرچکا تھا وہ انتہائی سیدھی سادھی اور محدود سہی لیکن سماجی زندگی کے لیے افراد کے ذہنی و جذباتی رابطے ضروری ہیں۔ اور یہ رابطے جذبات کی ترسیل اور ذہنی تجربوں اور خیالات کے ابلاغ اوامر و نواہی، استفہام اور تشریحی بیانات ہی سے مستحکم ہوسکتے ہیں۔ زبان کے بغیر سماجی زندگی کا تصور ممکن نہیں انسان کی مابہ الامتیاز خصوصیت سوچنے سمجھنے کی صلاحیت بھی ہے۔ اس کی بالکل ابتدائی زندگی میں سوچنے سمجھنے اور خیالات کی سطح جو بھی رہی ہو اس میں زبان کے کردار سے انکار نہیں کیا جاسکتا"(9).

ترجمه : د بشر پوهنې نقطه نظر دا دی چې د انسانانو په منځ کښې د رابطې ضرورت د ژبې په وجود کښې د راتلو سبب جوړ شو. او سماجي ضرورتونو او تقاضو انسان ته د ژبې نه د کار اخستو چل اوښودو. د دې خبرې نه دا نتيجه را ايستې شي چې د ژبې د پېدائښت نه وړاندې انسان څۀ نه څۀ ټولنيز ژوند شروع کړې ؤ. هغه اګرچې ډېر ساده باده او محدوده ؤ ولې د ټولنيز ژوند دپاره د ټولنې د غړو په خپلو کښې ذهني او جذباتي رابطې ضروري دي او دا رابطې د جذباتو د رسولو د ذهني تجربو او د خيالونو يو بل ته د رسولو، د نېکۍ او بدۍ حکم، د تپوس کولو او د تشريحي بيانونو په وجه مضبوطې کېدی شي. د ژبې نه بغېر د ټولنيز ژوند تصور هم ناممکن دی د انسان يو امتيازي خصوصيت د سوچ او فکر صلاحيت دی د دۀ په اولني ژوند کښې د سوچ، فکر او د خيالاتو سطح چې هر څۀ وه خو په هغې کښې د ژبې د کردار نه انکار نۀ شي کېدی.

هم دغه نقطۀ نظر د زړو آثارو ماهران هم لري.

"When we find in the archeological record, specific types of such purposefully fashioned tools persisting over time in the form of a definite tool making tradition we sea a Cultural trait that we assume could not have come in to existence with out language from it transmission we infer the operation of a fundamental function of language, the communication of already acquired knowledge. This indirect evidence makes it highly probable that the earlier non- sapiens human species which can be shown by archeological evidence to have fashioned tools and transmitted the appropriate techniques from generation to generation

like wise had language. If the inference from this evidence is valid then language is several millions years old"(10).

ترجمه : کله چې مونږ د زړو آثارو ریکارډ مومو په هغې کښې په خصوصې توګه تراشلي شوي آلات چې د هغه وخت رواج ؤ يو داسې ثقافتي نمونه ده چې ددې وجود د ژبې نه بغير ممکنه نۀ دی. ددې ثقافتي ترسيل نه مونږ دا استنباط کوؤ چې د ژبې بنيادي کار د مخکښې نه د موجود علم ابلاغ ؤ. دا بالواسطه دليل دا خبره يقين ته رسوي چې دانسانانو وړومبنو آباؤ اجدادو چې دا آلات به ئې جوړول او ددې علم به ئې د يو نسل نه بل نسل ته منتقل کوؤ، ژبه لرله کۀ چرې دا دليل صحيح وي نو بيا ژبه ميلېنه کاله زړه ده.

د ژبې د پېدائښت په حقله چې کو مې نظريې هم پېش کړی شوې. په دې ټولو کښې لږډېر صداقت خو شته ولې يقيني علم د يو نه هم نۀ کېږي چې ژبه څرنګه پېدا شوه.

اوس به د قرآن په رڼا کښې د ژبې په پېدائښت نظر واچوؤ ځکه چې په حېث د مسلمان مونږ دپاره د قرآن خبره د کاڼي کرښه ده او مونږ پرې ايمان لرو. د قرآن کريم په وړومبنۍ سيپاره سورة بقرة کښې الله تعالیٰ فرمائي :

"وَعَلَّمَ آدَمَ الأَسْمآءَ كُلَّهَا (11)

ترجمه : او ښودل خدائی پاک آدم عليه السلام ته نومونه د ټولو څيزونو.

هم دا رنګې د اووۀ ويشتمې سيپارې په سورة رحمان کښې راغلي دي :

"خَلَقَ الْاِنْسَانَ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ (12)

ترجمه : الله پاک انسان پېدا کړو او هغۀ ته ئې بيان يعني د خبرو کولو چل ور ښودلو.

دغه رنګې الله تعالیٰ په سورة البلد کښې فرمائي :

" اَلَمْ نَجْعَلْ لَّهُ عَيْنَيْنِ وَ لِسَاناً وَ شَفَتَيْنِ (13)

ترجمه: (ايا مونږ دوی ته دوې سترګې او دوې شونډې نۀ دي ورکړې).

د قرآن کريم په ابراهيم سورة کښې د مورنۍ ژبې د اهميت په حقله الله تعالیٰ فرمائي.

"وَمَا اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلاَّ بِلِسَانِ قَوْمِه لِيُبِيِّنَ لَهُمْ فَيَضِلُّ اللهُ مَنْ يَشَآءُ وَيَهْدِیْ مَنْ يَشَآءُ وَهُوَالعَزِيْزُ الْحَكِيْم (14)

ترجمه : مونږ نۀ دی لیږلی یو رسول مگر لیږلی مو دی په ژبه د قوم د هغۀ ددې لپاره چې دوئي ته د الله تعالٰی دین بیان کړي. پس الله تعالٰی گمراه کوي هغه څوک چې خوښه ئې شي او هدایت ورکوي هغه چا ته چې خوښه ئې شي او الله تعالٰی د حکمت خاوند دی.

ددې نه علاوه د قرآن پاک د ډېرو آیتونو په تفسیر کښې مفسرین لیکي چې الله تعالٰی خپله پیغمبرانو ته گڼې ژبې ورښودلې وې. لکه د مثال په توگه دا یو څو آیتونه سره د تفسیر وړاندې کوم.

,,وَ قِيْلَ يٰاَرْضُ ابْلَعِيْ مَآءَكِ وَ يٰسَمَآءُ اَقْلِعِيْ وَ غِيْضَ الْمَآءُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُوْدِيِّ وَقِيْلَ بُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ"(15)

ددې آیت په تفسیر کښې مفسرین لیکي چې :

*,, پس آپ جودی کے نیچے اترے اور وہیں ایک بستی کی بناڈال دی جسے ثمانین کہتے ہیں۔ ایک دن صبح کو جب لوگ جاگے تو ہر ایک کی زبان بدلی ہوئی تھی۔ اسی زبانیں بولنے لگے جن میں سب سے اعلیٰ اور بہتر عربی زبان تھی۔ ایک کو دوسرے کا کلام سمجھنا محال ہو پڑا۔ نوح علیہ السلام کو اللہ تعالیٰ نے سب زبانیں معلوم کرادیں۔ آپؑ ان سب کے درمیان مترجم تھے۔ ایک کا مطلب دوسرے کو سمجھا دیتے تھے۔*(16)

ترجمه : پس نوح علیه السلام د جودي غر نه را کوز شو او هلته ئې یو کلی آباد کړو. چې ثمانین ورته وئیلی شي. یوه ورځ چې سحر ټول خلق پاڅېدل نو د هر یو ژبه بدله وه. اتیا ژبې ئې وئیلې چې په ټولو کښې اعلٰی او بهترینه ژبه عربي وه. د یو بل په خبره پوهېدل گران شو. نوح علیه السلام ته الله تعالٰی ټولې ژبې وښودې. او هغه د ټولو تر مینځه ترجمان ؤ. د یو مطلب به ئې بل ته بیانوؤ. دغه شان د سورة یوسف د یو آیت د تفسیر جائزه به هم واخلو.

"وقَالَ الْمَلِكُ ائْتُوْنِيْ بِهٖ اَسْتَخْلِصْهُ لِنَفْسِيْ(17)

ترجمه : او ووئېل بادشاه چې راولئ هغه ( یوسف علیه السلام) ماله چې خالص ئې کړم د خپل ځان د کاروبار دپاره.

ددې آیت په تفسیر کښې مفسرین لیکي چې :

*"وہب نے بیان کیا جب یوسف علیہ السلام شاہی دروازہ پر پہنچے تو فرمایا میرا رب میرے لیے کافی ہے۔ دنیا سے بے نیاز کرنے والا ہے۔ میرا رب میرے لئے کافی ہے۔ اپنی مخلوق سے بے احتیاج کردینے والا ہے۔ اس کی پناہ لینے والا غالب رہتا ہے۔ اس کی ثنا بڑی ہے۔ اس کے سوا کوئی معبود نہیں۔ اس کے بعد گھر کے اندر داخل ہوئے اور بادشاہ کے سامنے پہنچے تو دعا کی کہ اے اللہ میں اس کی خیر کی بجائے تیری خیر کا تجھ سے طالب ہوں۔ اور اُس کے اور دوسروں کے شر سے*

*تیری پناہ پکڑتا ہوں۔ بادشاہ نے جب آپؑ کی طرف دیکھا تو آپؑ نے اس کو عربی میں سلام کیا۔ بادشاہ نے کہا یہ کیا زبان ہے۔ فرمایا میرے چچا اسماعیلؑ کی زبان ہے۔ پھر آپؑ نے بادشاہ کو عبرانی زبان میں دعا دی۔ بادشاہ نے پوچھا یہ کونسی زبان ہے۔ فرمایا یہ میرے باپ دادا کی زبان ہے۔ بادشاہ ان دونوں زبانوں سے ناواقف تھا اگرچہ ستر زبانوں میں گفتگو کر سکتا تھا ۔ جس زبان میں بات کرتا تھا آپؑ اسی زبان میں جواب دے دیتے تھے مگر عبرانی اور عربی مزید جانتے تھے جن سے بادشاہ واقف نہ تھا۔ حضرت یوسفؑ کی اس وقت عمر تیس سال کی تھی۔ اس نوجوانی میں آپ کے یہ کمالات دیکھ کر متحیّر ہو گئے اور اپنے قریب بٹھایا۔ (تفسیری مظہری)* **(18)**

ترجمه : وهب بيانوي چې کله يوسف عليه السلام شاهي دروازې ته ورسېدو نو وې فرمائيل چې زما رب زما دپاره کافي دی. هغه د دنيا نه بې پروا کولو والا دی. زما رب زما دپاره کافي دی. هغه د خپل مخلوق نه بې احتياجه کولو والا دی. د هغۀ پناه اخستونکی غالب وي. د هغۀ ثنا لويه ده. د هغۀ نه سېوا بل معبود نۀ شته. ددې نه پس کور ته ورننوتو او د بادشاه مخې له لاړو. نو دعا ئې وکړه چې يا الله ددۀ د خېر په ځای زۀ ستانه ستا د خېر طالب يم او ددۀ او د نورو خلقو د شر نه ستا پناه غواړم. چې کله ورته بادشاه وکتل نو يوسف عليه السلام ورته په عربۍ ژبه کښې سلام وکړو. بادشاه اووئيل چې دا کومه ژبه ده. وی فرمائيل چې دا زما د ترۀ اسماعيل عليه السلام ژبه ده. بيا ئې بادشاه ته په عبرانۍ ژبه کښې دعا اوکړه. بادشاه تپوس وکړو چې دا کومه ژبه ده. وی فرمائيل دا زما د پلار نيکۀ ژبه ده. بادشاه ددې دواړو ژبو نه ناواقفه ؤ. اګرچې د هغۀ اويا ژبې زده وې. په کومه ژبه کښې چې به ئې خبره کوله يوسف عليه السلام به ورله هغه ژبه کښې جواب ورکوؤ. خو عبراني او عربي يوسف عليه السلام له سېوائي ورتلې چې بادشاه ترې واقفه نۀ وو. دغه وخت د حضرت يوسف عليه السلام عمر دېرش کاله ؤ. په دې ځوانۍ کښې په دې دومره کمالاتو باندې بادشاه حېران شو او هغه ئې ځان سره نزدې کښېنوؤ. (تفسير مظهري)

ددې آيتونو او تفسيرونو نه دا ثابته شوه چې ژبه لکه د نورو مخلوقاتو او څيزونو په شان الله پاک پېدا کړې ده. اوخپلو پېغمبرانو ته ئې ښودلې ده. هم دا رنګې وېنا څېړنيار رفيع الله نيازي هم کوي.

"د قرآن کريم د ارشاداتو پر بنسټ ويلی شو چې ټولې ژبې الله پاک پيدا کړي او جوړې کړي دي . انسانان ئې په پيداوښت او جوړونه کښې هيڅ راز ونډه نۀ لري. او له دے سره په څنګ کښې د ټولو بشري ژبو زده کړه الله پاک د لومړي ځل

له پاره ادم‌عليه‌السلام ته ورکړې وه. په دې اړه ښاغلي پوهنمل زاهدي احمدزي په خپل اثر ,, د اسلامي اندود په رڼا کښې د ژبو او ليک د پيدائښت تاريخ" کښې د اسلامي تاريخ پوهانو او ژبپوهانو امام رازي د تفسير کبير او د امام سيوطي د اثرالمزهر له قوله ليکي چې حضرت آدم‌عليه‌السلام د ګردو بشري ژبو له پاره يو دفتر جوړ کړی ؤ چې په هغه کښې يې ليکلې وې بيا مخکښې له دې چې وفات شي هره ژبه ئې د ختو په ځانګړې تختې وليکله. بيا يې ټولې تختې د اور په بټۍ کښې پخې کړې. بيا ئې په يوه خونه کښې خوندي وساتلې او کله چې نړيوال توپان راغي نو د ژبو هغه تختې يې يوې او بلې خوا ته يوړې او سره خورې ورې يې کړې. د توپان له پای ته رسېدو وروسته د هغو ژبو د هرې ژبې تخته چې چاته لاس ته ورغله اومينده يې کړه نو د ميندونکي او هغه نسل هماغه ژبه شوه"(19).

***

# حوالې


(1) خٹک، خالد خان، ڈاکٹر، سندھی، پشتو،اردو کی لسانی روابط، پشتو اکیڈیمی پشاور یونیورسٹی، ۲۰۰۷ء، ص ۲۰

(2) همدغه ، ص ۲۰

(3) Pei, Mario, the story of Language, London, George Allen and unwin LTD Ruskin House Museum Street. 1925 , P 19

(4) علی،صفدر، پروفیسر، اردو لسانیات، فاروق سنز الکریم مارکیٹ اردو بازار لاہور، س ن، ص 157.

(5) Barber, C. L, the story of language, Richard clay (the Chaucer Press) Ltd, Bungay Suffolk, 1972 , P 31

(6) خٹک، خالد خان، ڈاکٹر، سندھی، پشتو، اردو کے لسانی روابط، ۲۰۰۷ء، ص ۲۱

(7) صدیقی، خلیل، زبان کیا ہے۔ بیکن بکس، گلگشت ملتان، 2001ء، بار دوم، ص ۱۲۵

(8) ایضاً، ص ۱۲۹

(9) ایضاً، ص ۱۲۹

(10) H Greenberg Joseph Language Culture and Communication Stanford University press Stanford California , 1971 , P 262

(11) قرآن کریم، سورۃ بقرۃ، آیت ۳۰

(12) قرآن کریم، سورۃ رحمان، آیت ۲، ۳

(13) قرآن کریم، سورۃ البلد، آیت ۸، ۹

(14) قرآن کریم، سورۃ ابراھیم، آیت ۴

(15) قرآن کریم سورۃ ھود، آیت ۴۴

(16) عبدالقیوم، مولانا، مہاجر مدنی، گلدستہ تفاسیر جلد(۳)، ادارہ تالیفات اشرفیہ ملتان، محرم۱۴۲۸ھ، ص۳۲٦

(17) قرآن کریم، سورۃ یوسف، آیت ۵۴

(18) عبدالقیوم، مولانا، مہاجر مدنی، گلدستہ تفاسیر. ص11

(19) نیازي، رفیع الله، څېړنیار، په پښتو کښې د ګرامر لیکنې تاریخي بهیر، د علومو اکاډمۍ د خپرونو ریاست، ۱۳۹۰ لمریز، ص ۴۹ ، ۵۰

i

ii